# د تغذيې-لپاره - د کوچنيو ماشومانو د وچو شيدو چمتو کول

## له پيلولو وړاندې

- د قوطي په سر ليکل شوې نېټه ته پام وکړئ. هغه به تاسو ته ووايي Best if used by (غوره که چېرې وکارول شي) او يا غوره په واسطه د (Best by). له دې نېټې وروسته دا وچې شيدې مه کاروئ.
- نا پرانيستل شوي قوطي د خونې په مناسبه حرارت درجه کې وساتئ.
- له اوبو او صابون سره لږ تر لږه تر 20 ثانيو پورې خپل لاسونه و مينځئ.
- خپله کاري سيمه پاکه کړئ.
- د قوطي پورتنۍ برخه وونيځئ.
- قوطی په سم ډول وښوروئ.
- د وچو شيدو له ګډولو وړاندې له خپل ډاکټر څخه پوښتنه وکړئ چې آيا په ګرمو اوبو کې د لوښو، د تغذيې د بوتلونو او يا د چوشک وينځلو ته اړتيا لرئ او که نه. د بوتل د اوبو په اړه پوښتنه وکړئ.

## د له پايته رسولو وروسته

**د تغذيې لپاره د چمتو شويو وچو د خلاصو بوتلونو ساتل:**

- ډاډ ترلاسه کړئ چې سرپوښونه په سم ډول محکم شوي دي.
- نا استفاده شوې وچې شيدې په يوه سرپوښ لرونکي لوښي کې په يخچال کې کيږدئ او د 48 ساعتونو په لړ کې يې وکاروئ.

Washington State Department of Health

DOH 961-1273 October 2022 Pashto

په بل فارمټ کې د دغه سند د غوښتلو لپاره 1-800-841-1410 شمېرې ته زنګ ووهئ. د کڼو او هغو پېرېدونکو لپاره چې په اورېدو کې ستونزه لري، مهرباني وکړئ 711 (Washington Relay) سره اړيکه کې شی يا دلته برېښناليک ولېږئ WIC@doh.wa.gov.




## بوتلونه پاک کړئ.

د لوښو د وينځلو په ماشين کې په پوره سايکل سره بوتلونه او د هغې ټولې برخې ومينځئ **او** يا لاندې مرحلې تعقيب کړئ:

1. په ګرمو صابون لرونکی اوبو کې ومنيځئ. په بشپړه توګه اوبه پرې تيرې کړئ.
2. وينځل شوي بوتلونه او د هغوي برخې په يوه کاسه کې له اوبو سره واچوئ. په غوټيدونکو اوبو کې يې واچوئ او د پينځو دقيقو لپاره يې په ګرمو اوبو کې وساتئ.
3. کاسه له حرارت څخه لرې کړئ. بوتلونه او د هغې برخې له اوبو را وباسئ. په يوه پاکه سطحه کې کيږدئ تر څو په آزاده هوا کې وچ شي.




## د تغذيې-لپاره - چمتو شوې وچې شيدې

- له پرانيستلو وروسته قوطی په سم ډول وښوروئ.
- وچې شيدې په پاک بوتل يا چوشک کې واچوئ.
- اوبه مه ور ډيروئ.

**د اوبو زياتو وچې شيدې کلکوي، په** دې معنی چې ستاسو ماشوم په مناسبه کچه کالوري او مغذي مواد نه ترلاسه کوي.




## تاسو اړ نه ياست چې وچې شيدې ګرمې کړئ

که چېرې تاسو غواړئ چې وچې شيدې ګرمې کړئ:

- د وچو شيدو بوتل له ګرمو روانو اوبو لاندې ونيسئ او يا هغه د ګرمو (نه ايشيدونکو) اوبو په کاسه کې ځای پر ځای کړئ.
- **هغه په مايکروويو کې مه ګرموئ.**

دا ښايي په نامناسب ډول د ګرمېدو او په ډېر احتمال سره ستاسو د ماشوم د خولې د سوزيدو سبب شي.




## تل له تغذيې وړاندې بوتل چک کړئ

- د خپل لاس په ورغوي د جوړو شويو وچو شيدو يو څو څاڅکي وڅڅوئ. تاسو بايد د ګرمښت احساس ونه کړئ.
- له ګډولو وروسته په سمدستي توګه يې ماشوم ته ور کړئ.
- له تغذيې وروسته، تل په چوشک يا بوتل کې پاتې شوې شيدې لرې کړئ. د تغذيې پر مهال ستاسو د ماشوم د خولې بکټرياوې له وچو شيدو سره ګډيږي.




## د وچو شيدو چوشکونه په يخچال کې کيږدئ

- په ياد ولرئ چې د تغذيې لپاره چمتو شوې شيدې بايد د 48 ساعتونو په لړ کې مصرف شي.
- په هر بوتل باندې د چوشک د خولې سرپوښ کيږدئ. هغه په يخچال کې کيږدئ تر څو د کارولو لپاره چمتو شي.
- چمتو شوې وچې شيدې د خونې په آزاده فضا کې مه پريږدئ. هغه مه يخک کوئ.